(۱) ادارات مکلف اند، درمورد کمیت وشرح اجناس مازاد مربوط خود به وزارت مالیه گزارش ارائه و به صورت محرمانه در مورد قیمتی که وزارت خواهان دریافت چنین اموال می باشد، ابراز

څرګند کړي.

دغه رپوټ نومړو اجناسو تــه د اړتيا په هکله د تصميم د نيولو لپاره نورو ادارو ته ابلاغيږي. په اخـــص ډول ښــوونيزی اداري د مــازادو کمپيوتري وسايلو او ترانســپورتي وسايطو په هکله، د پرېښــودونکې اداري په واسطه خبرول کيږي.

(۲) هغه مالونه چې د ادارو تــرمنځ لېږدول کېږي، د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداره کولو د قانون د نهه څلوېښتمې مــادې د (۳) فقــرې د حکم مطابق، بودجوي ثبتيږي.

## نهم فصل

## د اعطاء آمر او د خاصو تدارکاتو د کمېسيون واکونه

**د قراردادونو منظوري**

نوي يمه ماده:

(۱) قراردادونه ددې قــانون پــه يونوي يمه ماده کې د درج شــوي

نظر نمايند.

اين گزارش جهت اتخاذ تصــميم در مورد ضرورت به اجناس متذکره بــه ساير ادارات ابلاغ می گردد. ادارات تعليمی به صورت اخــص در مــورد وسايل کمپيوتری و وسايط ترانسپورتی مازاد توسط ادارۀ واگــذار کننــده، مطلع گردانيده می شود.

(۲) اموالی که ميان ادارات انتقال می گردد ، طبق حکم فقــرۀ (۳) مادۀ چهــل ونهــم قــانون ادارۀ امورمالی و مصارف عامــه ثبــت بودجوی می گردد.

## فصل نهم

## صلاحيت های آمر اعطاء وکميسيون تدارکات خاص

**منظوری قراردادها**

مادۀ نودم:

(۱) قــراردادهــا بــانظرداشــت صلاحيت پــولی منــدرج مــادۀ

پولي واک له په پام کې نیولو سره، داعطاء آمر په واسطه منظوربږي.

(۲) که چیرې د قرارداد عقدېدل د اعطاء آمر له واک څخه بهر وي، قرارداد د اعطاء آمر له تایید وروسته، د منظورۍ لپاره د خاصو تدارکاتو کمېسیون ته راجع کېږي.

## د اعطاء آمر پولي واک

**یونوي یمه ماده:**

اعطاء آمر ددې قانون د نوي یمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو قراردادونو په منظورۍ کې، په لاندې توګه د پولي واک لرونکی دی:

۱- د هېواد له دننه څخه په پرانستې داوطلبی کې:

- په اجناسو کې، تر (۲۰، ۰۰۰،۰۰۰) شلو میلیونو افغانیو پورې.

- په ودانیزوچارو کې (۱۰۰، ۰۰۰، ۰۰۰) ترسلو میلیونو افغانیو پورې.

- په خدمتونو کې، تر

نود ویکم این قانون توسط آمر اعطأ منظور می گردد .

(۲) هرگاه عقد قراردادخارج از صلاحیت آمر اعطأ باشد، قرارداد بعد از تائید آمر اعطأ جهت منظوری به کمیسیون تدارکات خاص ارجاع می گردد.

## صلاحیت پولی آمر اعطأ

**مادۀ نودویکم :**

(۱) آمر اعطأ در منظوری قراردادهای مندرج فقرۀ (۱) مادۀ نودم این قانون دارای صلاحیت های پولی به ترتیب ذیل می باشد :

۱- در داوطلبی باز از داخل کشور :

- در اجناس، الی مبلغ (۲۰، ۰۰۰،۰۰۰) بیست میلیون افغانی .

- در امور ساختمانی، الی مبلغ (۱۰۰، ۰۰۰، ۰۰۰) یکصد میلیون افغانی .

- در خدمات،الی مبلغ

(۰۰۰، ۰۰۰، ۲۰) شلو ميليونو افغانيو پورې.

۲- له هېواد څخه بهر په(بين المللي)، پرانستې داوطلبۍ کې:

- په اجناسو کې، تر (۰۰۰،۰۰۰، ۴۰) څلوېښتو ميليونو افغانيو پورې.

- په ودانيزو چاروکې، تر (۰۰۰، ۰۰۰، ۲۰۰) دوه سوه ميليونو افغانيو پورې.

- په خدمتونو کې. تر (۰۰۰، ۰۰۰،۴۰) څلوېښتو ميليونو افغانيو پورې.

۳- د هېواد له د ننه څخه په مقيده دواطلبۍ کې:

- په اجناسو کې تر (۰۰۰، ۰۰۰، ۸) اتو ميليونو افغانيو پورې.

- په ودانيزو چاروکې تر شپاړسو ميليونو (۰۰۰، ۰۰۰، ۱٦) افغانيو پورې.

- په خدمتونو کې، تر

(۰۰۰ ، ۰۰۰ ،۲۰) بيست ميليون افغانى.

۲- در داوطلبى باز خارج از كشور ( بين المللى ) :

- در اجناس، الى مبلغ (۰۰۰ ،۰۰۰۰، ۴۰) چهل ميليون افغانى .

- در امور ساختمانى،الى مبلغ(۰۰۰،۰۰۰، ۰۰ ۲) دوصد ميليون افغانى .

- در خدمات، الى مبلغ (۰۰۰ ،۰۰۰ ،۴۰) چهل ميليون افغانى .

۳- در داوطلبى مقيد از داخل كشور :

- در اجناس، الى مبلغ(۰۰۰،۰۰۰، ۸) هشت ميليون افغانى .

- در امور ساختمانى، الى مبلغ(۰۰۰،۰۰۰، ۱٦) شانزده ميليون افغانى .

- در خدمات، الى مبلغ

(۰۰۰، ۰۰۰، ۸) اتــو میلیونــو افغانیو پورې.

۴- له هېــواد څخــه پــه بهــر (بین المللی) مقیده داوطلبی کې:

- پـــه اجناســـو کـــې، تـــر (۰۰۰، ۰۰۰، ۱٦) شپاړســـو میلیونو افغانیو پورې.

- په ودانیزو چـــاروکې، تـــر دوه دېرش میلیونو (۰۰۰، ۰۰۰، ۳۲) افغانیو پورې.

- پـــه خـــدمتونو کـــې، (۰۰۰، ۰۰۰، ۱٦) ترشپاړســـو میلیونو افغانیو پورې.

۵- د هېواد له دننــه څخــه لــه واحدې سرچنې څخه تدارکات:

- پـــه اجناســـو کـــې، تـــر (۰۰۰، ۰۰۰، ۵) پنځو میلیونـــو افغانیو پورې.

- پـــه ودانیـــزو چـــاروکې، تـــر (۰۰۰، ۰۰۰، ۲۵) پنځـــه ویشت میلیونو افغانیو پورې.

- پـــه خـــدمتونو کـــې، تـــر

(۰۰۰،۰۰۰، ۸) هشت میلیـــون افغانی .

۴- در داوطلبی مقید از خـــارج کشور ( بین المللی ):

- در اجنـــــاس،الی مبلـــــغ (۰۰۰، ۰۰۰، ۱٦) شـــــانزده میلیون افغانی .

- در امـــور ســـاختمانی، الـــی مبلغ(۰۰۰، ۰۰۰، ۳۲) سی ودو میلیون افغانی .

- در خـــدمات، الـــی مبلـــغ (۰۰۰ ، ۰۰۰، ۱٦ ) شـــــانزده میلیون افغانی .

۵- تدارکات از منبـــع واحـــد از داخل کشور :

- در اجنـــــاس،الی مبلـــــغ (۰۰۰ ، ۰۰۰، ۵) پنج میلیـــون افغانی .

- در امور ســـاختمانی،الی مبلـــغ (۰۰۰،۰۰۰، ۲۵) بیست و پنج میلیون افغانی .

- در خـــــدمات،الی مبلـــــغ

(۰۰۰، ۰۰۰، ۵) پنځو میلیونو افغانیو پورې.

۶- له هېواد څخه بهر (بین المللي) له واحدې سرچینې څخه تدارکات:

- په اجناسو کې، تر (۰۰۰، ۰۰۰، ۱۰) لسو میلیونو افغانیو پورې.

- په ودانیزو چاروکې، تر (۰۰۰، ۰۰۰، ۵۰) پنځوسو میلیونو افغانیو پورې.

- په خدمتونو کې، تر (۰۰۰، ۰۰۰، ۱۰) لسو میلیونو افغانیو پورې.

۷- د کورنیو او بین ا لمللي مشورتي خدمتونو د وړاندیزونو په غوښتنه کې تدارکات تر (۴۰،۰۰۰،۰۰۰) څلوېښتو میلیونو افغانیو پورې.

(۲) اعطاء آمر کولی شي ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي پولي واکونه په کلي یا قسمي توګه، دوه یمو احدونو، معینانو

( ۰۰۰، ۰۰۰، ۵) پنج میلیون افغانی .

۶- تدارکات از منبع واحد از خارج کشور ( بین المللی ) :

- در اجناس،الی مبلغ (۰۰۰، ۰۰۰، ۰ ۱) ده میلیون افغانی .

- در امور ساختمانی، الی مبلغ(۰۰۰، ۰۰۰، ۰ ۵) پنجاه میلیون افغانی .

- در خدمات،الی مبلغ (۰۰۰، ۰۰۰، ۰ ۱) ده میلیون افغانی .

۷- تدارکات در مطالبۀ پیشنهادات خدمات مشورتی داخلی وبین المللی الی مبلغ (۰۰۰، ۰۰۰، ۴۰) چهل میلیون افغانی .

(۲) آمر اعطأ می تواند صلاحیت های پولی مندرج فقرۀ (۱) این ماده را طور کلی یا قسمی به واحد های دومی، معینان

او د اړوندو ادارو د برخو رئيسانو ته وسپاري.

**د خاصو تدارکاتو د کمېسيون د پولي منظورۍ واک**

**دوه نوي يمه ماده:**

که چېرې ددې مادې په يونوي يمه ماده کې د درج شوو اجناسو، خدمتونو او ودانيزو چارو د برابرولو او تدارک د پيسو حجم زيات وي، د هغو د قرارداد منظوري، د خاصو تدارکاتو د کمېسيون واک دی.

## لسم فصل

## نهائي حکمونه

**د تدارکاتو لپاره لنډ مهاله تدبيرونه**

**دري نوي يمه ماده:**

(۱) حکومت کولی شي، ددې قانون د ښه تطبيق په منظور، د لګښتونو د اغېزمن مديريت د

ورؤسای بخش های ادارات مربوط تفویض نماید .

**صلاحیت منظوری پولی کمیسیون تدارکات خاص**

**مادۀ نود ودوم:**

هرگاه حجم پولی تهیه وتدارک اجناس، خدمات و امور ساختمانی مندرج مادۀ نودویکم این قانون بیشتر باشد، منظوری قرارداد آنها از صلاحیت کمیسیون تدارکات خاص می باشد.

## فصل دهم

## احکام نهائی

**تدابیر مؤقتی برای تدارکات**

**مادۀ نود وسوم:**

(۱) حکومت می تواند، به منظور تطبیق بهتر این قانون الی زمان بمیان آمدن مدیریت

منځته راتلو او د تدارکاتي ادارو د بشپړ ظرفيت د لوړولو تر وخته، لنډ مهالي ترتيبات ترلاس لاندې ونيسي.

په لنډ مهالو ترتيباتو کې د خاصې ادارې توظيفول شامل دي چې ادارو ته تدارکاتي آسانتياوې او د تدارکاتي ادارو د کار کوونکو د ظرفيت د لوړېدو زمينه برابر وي.

(۲) که چيرې د تدريجي نه تمرکز برنامه تطبيق شي، د اعطاء آمرينو واک د هغوی د تدارکاتي ظرفيت له په پام کې نيولو سره ددې قانون په نوي يمه ماده کې له درج شوې اندازې څخه په کمو حدودو کې ټاکل کېدي شي.

(۳) د دې مادې په (۱ او ۲) فقره کې درج شوي د تدارکاتو لنډ مهالي تدبيرونه، په لاندې احوالو کې له

مؤثر مصارف وارتقای ظرفيت کامل ادارات تدارکاتی، ترتيبات مؤقتی را روی دست گيرد .

ترتيبات مؤقتی شامل توظيف ادارهٔ خاص می باشد که برای ادارات تسهيلات تدارکاتی و زمينهٔ ارتقای ظرفيت کارکنان ادارات تدارکاتی را فراهم می نمايد .

(۲) هرگاه برنامهٔ عدم تمرکز تدريجی تطبيق گردد، صلاحيت آمرين اعطاء با نظرداشت ظرفيت تدارکاتی آنها در حدود کمتر از اندازهٔ مندرج مادهٔ نودم اين قانون تعيين گرديده می تواند.

(۳) تدابير مؤقتی تدارکات مندرج فقره های (۱ و۲ ) اين ماده در احوال ذيل از اعتبار ساقط

اعتباره لوېږي:

۱- د دولتي مرکزي ادارو په هکله، ددې قانون د انفاذ له نېټې څخه د دوو کلونو له تېرېدو وروسته.

۲- د ولايتي، ولسواليو، ښاروالیو د ادارو او د ادارو د نورو څانګو په هکله، ددې قانون د انفاذ له نېټې څخه د دريوکلونو له تيريدو وروسته.

**جزاوې، جريمه او د زيان جبران**

**څلورنوي يمه ماده:**

هغه شخص چې ددې قانون له حکمونو څخه د سرغړونې له امله ځان يا بل شخص ته د ګټې د ترلاسه کولو يا اداري ته د زيان موجب شي، په قانون کې پر اټکل شوو مجازاتو برسېره، سرغړوونکی او ګټه اخستونکی د زيان د جبران

می گردد:

۱- در مورد ادارات مرکزی دولتی بعد از گذشت الی دو سال از تاریخ انفاذ این قانون .

۲- در مورد ادارات ولایتی، ولسوالی ها و شاروالی ها و سایر شعبات ادارات بعد از گذشت الی سه سال از تاریخ انفاذ این قانون.

**جزاها، جریمه و جبران خساره**

**مادۀ نود وچهارم:**

شخصی که بالاثر تخلف از احکام این قانون، موجب دریافت منفعت برای خود یا شخص دیگر و یا خساره به اداره گردد، بر علاوۀ مجازات پیشبینی شده در قانون متخلف و ذینفع مکلف به پرداخت جبران

په ورکولو هم مکلف دي.
د زيان د جبران مقدار د ترلاسه کړې ګټې يا اړول شوي زيان د اندازې په پام کې نيولو سره د واکمنې محکمې لخوا ټاکل کيږي.

تقنيني سندونه

پنځه نوي يمه ماده:
(۱) د تدارکاتو د پاليسۍ اداره کولي شي، ددې قانون د حکمونو د ښه تطبيق په منظور، کړنلاره او خاصې لايحې وضع کړي.
(۲) د تدارکاتو د پاليسۍ اداره د اجراآتو د توحيد په منظور کولی شي، ددې قانون د حکمونو د تطبيق لپاره لارښودنه او اړوندې کړنلارې صادرې کړي. لارښودنه او شرطپاڼې اونور معياري (نمونوي) سندونه عندالموقع ټولو دولتي ادارو او مؤسسو ته صادريږي.

خساره نيز می باشد. مقدار جبران خساره بانظرداشت اندازۀ منفعت حاصله يا خسارۀ وارده از طرف محکمۀ ذيصلاح تعيين می گردد.

اسناد تقنينی

مادۀ نود وپنجم:
(۱) ادارۀ پاليسی تدارکات می تواند به منظور تطبيق بهتر احکام اين قانون طرزالعمل ها ولوايح خاص را وضع نمايد.
(۲) ادارۀ پاليسی تدارکات به منظور توحيد اجراآت می تواند، رهنمود ها را جهت تطبيق احکام اين قانون و طرزالعمل های مربوط صادر نمايد. رهنمود ها و شرطنامه ها وسايراسناد معياری (نمونوی) عندالموقع به تمام ادارات و مؤسسات دولتی صادر می گردد.

**انفاذ**

**شپږنوي یمه ماده:**

دغه قانون د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي او په نافذېدو سره يې، د ۸/۳/ ۱۳۸۴ نېټې په (۸٦۵) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د تدارکاتو قانون او نور مغاير حکمونه يې لغو ګڼل کېږي.

**د تدارکاتو د قانون ضميمه**

**تدارکاتي سندونه:**

(۱) لاندې سندونه د نرخ ورکونې (پرچون) په پړاوونو او نورو تدارکاتي پړاوونو کې ترګټه اخستنې لاندې نيول کېږي:

(الف) د پېرودنې غوښتنليک : هغه سند دی چې د تدارکاتو د قانون د (دوولسمې مادې) مطابق د پېرودنې د پړاوونو د پيل لپاره ترتيبېږي، د تدارکاتو خاص نمبر پکې درجېږي،

**انفاذ**

**مادۀ نود وششم:**

اين قانون از تاريخ توشيح نافذ و در جريدۀ رسمی نشر گردد و با انفاذ آن قانون تدارکات منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۸٦۵) مؤرخ ۱۳۸۴/۸/۳ و سايراحکام مغايرآن ملغی شمرده می شود.

**ضميمه قانون تدارکات**

**اسناد تدارکاتی:**

(۱) اسناد آتی درمراحل درخواست نرخ دهی (پرچون) وسايرمراحل تدارکاتی مورد استفاده قرار می گيرد:

(الف) درخواست خريداری: سندی است که مطابق (مادۀ دوازدهم) قانون تدارکات برای آغازمراحل خريداری ترتيب می گردد. نمبرخاص تدارکات درآن درج واجناس خدمات

اړتيا وړ اجناس، خدمتونه او ودانيزې چارې، هغو ته د اړتيا وخت او تخميني بيه په لنډه سره ځرګندوي، د واکمن اعطاء آمر منظوري پکې اخستل کېږي.

(ب) دنرخ ورکونې د غوښتنليک سند: هغه سند دی چې په پرچون پېرودنه کې پلورونکو ته د رقابتي نرخ ورکونې د بلنې لپاره صادرېږي اود اړتيا وړ تدارکاتو د اجراء د ډول، د اجناسو، خدمتونو او ودانيزو چارو، له هغو څخه د رامنځته شوي قرارداد د شرطونو اومندرجاتو په هکله پر لارښوونو مشتمل وي.

(ج) مؤقت بيجک: هغه سند دی چې د داوطلب په واسطهٔ ادارې ته د نرخ د وړاندې کولو په منظور، برابرېږي. البته په هغو حالاتو کې تر ګټې اخستنې لاندې نيول کېږي چې اداره د نرخونو د درجولو لپاره داوطلبانو ته فورمه

واموروساختمانی مورد ضرورت ، زمان ضرورت به آنها وقيمت تخمينی آن را مختصراً توضيح می نمايد. منظوری آمر اعطای ذيصلاح درآن درج می گردد.

(ب) سند درخواست نرخ دهی: سندی است که جهت دعوت نرخ دهی رقابتی به فروشندگان در خريداری پرچون صادر می گردد ومشتمل برهدايات درمورد طرزاجرای تداركات، توضيح اجناس خدمات وامور ساختمانی مورد ضرورت ، شروط ومندرجات قرارداد ناشی از آن می باشد.

(ج) بيجک مؤقت: سندی است که توسط داوطلب به منظور ارائه نرخ به اداره فراهم می گردد. البته در حالاتی مورد استفاده قرار می گيرد که اداره فورمهٔ را جهت درج نرخ ها به داوطلبان

برابره کړې نه وي.

(د) د سوداګریز راجستر سند: هغه سند دی چې د داوطلب په هېواد کې د واکمنې مرجع په واسطه صادرېږي او د سوداګرېزې مؤسسې په توګه د داوطلب د موقف داثبات لپاره، تدارک جوړوي.

له داوطلبانو څخه غوښتل کېدی شي څو یاد شوی سند (نولسمې مادې) دحکم مطابق، برابر کړي.

(هـ) د مالیاتي تصفیې تصدیق لیک: هغه سند دی چې د داوطلب د متبوع هېواد د واکمنو مراجعو په واسطه صادرېږي، او د داوطلب د مالیاتي مکلفیتونو د ترسره کېدو په اړه مدرک جوړوي.

له داوطلبانو څخه غوښتل کېدی شي څو (نولسمې مادې) دحکم مطابق، هغه برابره کړي.

(و) بیجک: هغه سند دی چې د قراردادي په واسطه د اجناسو،

تهیه ننموده باشد.

(د) سند راجستر تجارتی: سندی است که توسط مراجع ذیصلاح درکشور داوطلب صادر می گردد ومدرکی را برای اثبات موقف داوطلب به حیث مؤسسه تجارتی تشکیل میدهد.

ازداوطلبان تقاضا بعمل آمده می تواند تا سند متذکره را طبق حکم ( مادۀ نزدهم) فراهم نمایند.

(هـ) تصدیق نامه تصفیه مالیاتی: سندی است که توسط مراجع ذیصلاح کشور متبوع داوطلب صادر می گردد و مدرکی را مبنی بر برآورده ساختن مکلفیت های مالیاتی داوطلب تشکیل می دهد.

ازداوطلبان تقاضا بعمل آمده می تواند تا طبق حکم (مادۀ نزدهم) آنرا فراهم نمایند.

(و) بیجک: سندی است که توسط قراردادی جهت

خـــدمتونو او ودانیـــزو چـــارو د برابرولو او تـــدارک لـــه بابتـــه د ورکړې د غوښتنې لپاره تدارکاتي ادارې ته وړاندې کېږي.

نوموړی سند پر لانـــدې مـــواردو مشتمل دی:

– د قراردادي نوم او آدرس.

– د قراردادي د مالیې ورکـــونې تشخیصیه نمبر.

– د بیجک تخصص نمبر.

– د قرارداد نمبر.

– داجناسو، خدمتونو او اړونـــدو ودانیزو چـــارو د رســـولو لپـــاره اکمال، څرګندول، نېټه او ځای.

– د هغو د في واحد یا ټوله بیه.

(ز) د تحویل سند: هغه ســـند دی چې د قراردادي لخوا وړاندې او د ادارې د واکمن استازي په واسطه لاسلیک کېږي. نوموړی سند د دې د اثبات لپاره چې ادارې د قرارداد له مخې لازم اجناس ترلاسه کړي، مـــدرک جـــوړوي او پرلانـــدې

درخواســـت پرداخـــت ازبابـــت تهیه وتدارک اجنـــاس، خـــدمات وامور ساختمانی به ادارۀ تدارکاتی ارائه می گردد.

سندمتذکره مشـــتمل اســـت بـــر موارد ذیل:

– نام وآدرس قراردادی .

– نمبرتشخیصـــیه مالیـــه دهـــی قراردادی.

– نمبر مخصوص بیجک.

– نمبر قرارداد.

– توضیح، تاریخ ومحل رســـانیدن ویا اکمال اجناس خدمات وامـــور ساختمانی مربوط.

– قیمت فی واحد یا مجموعی آن.

(ز) سند تحویل: سندی است کـــه توسط قراردادی ارائـــه وتوســـط نماینده ذیصـــلاح اداره امضـــاء می گردد. سند مذکور مدرکی را جهت اثبات اینکه اداره اجنـــاس لازم به تأسی از قرارداد را دریافت نموده، تشکیل می دهد ومشـــتمل

مندرجاتو مشتمل دی:

– د قراردادي نوم او آدرس.

– د رسول شوو اجناسو څرګندونه اوکمیت .

– د هغـو د تحویلولـو نېټـه او موقعیت .

– د اداري نوم.

– د هغې اداري د استازي نـوم او لاسلیک چـې اجنـاس ترلاسـه کوي.

(ح) د مالونو د رسېد یادښت: هغه سند دی چې د تدارکاتو د څانګې په واسطه د هغې دتحویلخانو پـه موجودۍ کې د اضافه شوو اجناسو د قید لپاره، صادرېږي.

(ط) د ورکړې سند: هغه سند دی چې د ادراې لخوا برابر او پکـې لاربښوونه کېږي څو قراردادي تـه پیسې ورکړل شي او پـر لانـدې مندرجاتو مشتمل دی:

– د قراردادي نوم او آدرس.

– د ورکړې وړ بیجک نمبر.

برمندرجات ذیل می باشد :

– نام وآدرس قراردادی .

– توضـیح وکمیـت اجنـاس رسانیده شده.

– تاریخ وموقعیت تحویـل دهـی آن.

– اسم اداره.

– اسـم وامضـاء نماینـده اداره کـه اجنـاس را دریافـت می دارد.

(ح) یادداشت رسید اموال: سندی است که توسط شعبه تـدارکات جهت قید اجناس اضافه شده بـه موجـودی تحویلخانـه هـای آن صادر می گردد.

(ط) سند پرداخت : سندی اسـت که توسط اداره تهیه ودرآن هدایت داده می شود تا به قراردادی پول پرداخته شـود ومشـتمل اسـت برمندرجات ذیل:

– اسم وآدرس قراردادی .

– نمبر بیجک مورد تادیه.

- پیسې (افغاني یا اسعار).
- د ورکړې تګلاره اونېټه.
- د هغهٔ شخص نوم او لاسلیک چې ورکړه منظوروي.

- پول(افغانی یا اسعاری).
- روش وتاریخ پرداخت.
- نام وامضای شخصی که پرداخت رامنظور می نماید.

## د اداري فساد پر علیه د مبارزې د ستراتیژۍ پر تطبیق باندې د څارنې د قانون د توشیح په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه: (٦٣)

نېټه: ۱۳۸۷/۴/۳۱

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د نهه اویایمې مادې د حکم له مخې د اداري فساد پر علیه د مبارزې د ستراتیژۍ پر تطبیق باندې د څارنې قانون چې په (۵) فصلونو او (۲۲) مادو کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وزیرانو شورې د ۱۳۸۷/۴/۱٦ نېټې د (۱۷) ګڼې مصوبې پر بنسټ تأیید شوی دی توشیح کوم.

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در باره توشیح قانون نظارت بر تطبیق ستراتیژی مبارزه علیه فساد اداري

شماره: (٦٣)

تاریخ: ۱۳۸۷/۴/۳۱

مادۀ اول:

به تأسی از حکم مادۀ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، قانون نظارت بر تطبیق ستراتیژی مبارزه علیه فساد اداری را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۷) مؤرخ ۱۳۸۷/۴/۱٦ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغا نستان بداخل (۵) فصل و(۲۲) ماده تائید گردیده است، توشیح می دارم.

**دوه یمه ماده :**

(۱) د ارتشاء او اداري فساد پر علیه د مبارزې خپلواکه اداره، ددې قانون په نافذېدو سره منحل کېږي.

(۲) د اداري فساد پر علیه د مبارزې د ستراتیژۍ پر تطبیق باندې د څارنې عالي اداره د موجودو اړتیاوو له په نظر کې نیولو سره خپل نوي تشکیل او بودجه ترتیبوي او د پړاوونو د تېرولو لپاره یې وړاندې کوي.

**درېیمه ماده:**

د عدلیې وزیر او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر مؤظف دي، دغه فرمان د ملي شورې د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې هغې شورې ته وړاندې کړي.

**څلورمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه

**مادهٔ دوم :**

(۱) ادارهٔ مستقل مبارزه علیه ارتشاء وفساد اداری با انفاذ این قانون منحل می گردد.

(۲) ادارهٔ عالی نظارت برتطبیق ستراتیژی مبارزه علیه فساد اداری با نظر داشت نیازمندی های موجود، تشکیل وبودجه جدید خویشرا ترتیب وجهت طی مراحل ارائه نماید.

**مادهٔ سوم:**

وزیر عدلیه و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، این فرمان را در خلال (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسهٔ شورای ملی، به آن شورا تقدیم نمایند.

**مادهٔ چهارم:**

این فرمان از تاریخ توشیح

نافذ او له قانون سره يو ځـــای دې
په رسمي جريده کې خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوريت**

**رئيس**

نافـــذ و همـــراه بـــا قـــانون
در جريدهٔ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی**

**افغانستان**

## فهرست مندرجات قانون

## نظارت برتطبیق ستراتیژی مبارزه علیه فساد اداری

## فصل اول

## احکام عمومی


| مواد | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی................................... | ۱۳۰ |
| مادۀ دوم: | اهداف................................... | ۱۳۱ |
| مادۀ سوم: | فساد اداری................................... | ۱۳۲ |
| مادۀ چهارم: | ادارۀ مسؤول................................... | ۱۳۴ |
| مادۀ پنجم: | نام اختصاری................................... | ۱۳۴ |
| مادۀ ششم: | استقلالیت................................... | ۱۳۵ |
| مادۀ هفتم: | ساحه تطبیق ................................... | ۱۳۵ |


## فصل دوم

## تشکیل ، وظایف و صلاحیت ادارۀ عالی نظارت


| مواد | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ هشتم: | تشکیل ................................... | ۱۳۶ |
| مادۀ نهم: | وظایف................................... | ۱۳۷ |


## فصل سوم

## توامیت با ادارات


| مواد | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ دهم: | توامیت با ادارۀ تفتیش وکنترول................ | ۱۴۱ |
| مادۀ یازدهم: | همکاری ادارات............................... | ۱۴۱ |

مادهٔ دوازدهم: ثبت ونشر دارائی ............................۱۴۲

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

مادهٔ سیزدهم: انفصال مؤقت وتعقیب عدلی ................۱۴۳
مادهٔ چهاردهم: مصؤنیت اطلاع دهنده وشاهد................۱۴۴
مادهٔ پانزدهم: محرومیت از حقوق ............................۱۴۵
مادهٔ شانزدهم: شرایط پذیرش...................................۱۴۶
مادهٔ هفدهم: فراهم آوری زمینهٔ آموزش تخصصی...........۱۴۶
مادهٔهجدهم: ارایه گزارش..........................................۱۴۷
مادهٔ نزدهم: ایجاد څارنوالی ودیوان...........................۱۴۷

## فصل پنجم

## احکام نهائی

مادهٔ بیستم: عدم اخلال صلاحیت ..........................۱۴۸
مادهٔبیست ویکم: وضع لوایح وطرزالعمل ها.....................۱۴۸
مادهٔ بیست ودوم: انفاذ.........................................۱۴۸

## د اداري فساد پر علیه د مبارزې د ستراتیژۍ پرتطبیق باندې د څارنې قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

مبني

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون دافغانستان د اساسي قانون په اوومه ماده، د پنځه اويايمې مادې په (۳) جزءاو يو سلو دوه څلوېښتمه ماده کې د درج شوو حکمونو په رڼا کې او د اداري فساد پر علیه د ملګرو ملتونو د میثاق له په پام کې نیولو سره د اداري فساد پرعلیه دمبارزې د ستراتیژۍ پرتطبیق باندې د څارنې د اړوندو چارو د تنظیم په منظور وضع شوی دی.

## قانون نظارت برتطبیق ستراتیژی مبارزه علیه فساد اداری

## فصل اول

## احکام عمومی

مبنی

**مادهٔ اول :**

این قانون درروشنی احکام مندرج مادهٔ هفتم ، جزء (۳) مادهٔ هفتاد و پنجم و مادهٔ یکصدو چهل ودوم قانون اساسی افغانستان و رعایت میثاق ملل متحد علیه فساد اداری به منظور تنظیم امور مربوط به نظارت برتطبیق ستراتیژی مبارزه علیه فساد اداری وضع گردیده است.

موخې

دوه يمه ماده:

ددغهٔ قانون موخې عبارت دي له :

۱- د اداري فساد د مخنيـــوي او پر عليه د اغېزمنې مبارزې لپاره په ټولو ادارو کې د ادارې د اصلاح د ستراتيژۍ اوکـــړنلارې پرتطبيـــق باندې د څارنې لپاره د تـــدبيرونو نيول.

۲- دادارې فساد د قضاياوو پـــه هکلـــه د ادارو لـــه اجراآتـــو څخه څارنه.

۳- د ادارو لخوا د ادارې داصلاح او د اداري فساد پرعليه دمبارزې په چارو کې د نيول شوو تدبيرونو د تطبيق ارزونه .

۴- د ادارو په اجراآتو کـــې لـــه حســـاب ورکـــونې څخـــه د ډاډ ترلاسه کولو لپـــاره د روڼـــوالي (شفافيت)تأمينېدل.

اهداف

مادهٔ دوم :

اهداف اين قانون عبارت اند از:

۱- اتخاذ تدابير جهت نظارت بر تطبيق ستراتيژی وطرزالعمل اصلاح اداره ومبارزه عليه فســـاد اداری درتمـــــام ادارات ،غــــــرض جلوگيری و مبارزهٔ مؤثر عليه فساد اداری.

۲- مراقبـــــت از اجــــــراآت ادارات درمـــــورد قضـــــايای فساد اداری.

۳ – ارزيابی از تطبيق تدابير اتخاذ شده درامراصلاح اداره و مبـــارزه عليـــه فســـاداداری ازطـــرف ادارات.

۴- تـــــأمين شـــــفافيت در اجــــــراآت ادارات جهـــــت حصـــــول اطمينـــــان از حساب دهی.

۵- د وظيفوي رښتينولۍ او حساب وركونې د مسؤوليت پر بنسټ د عام المنفعه چارو د سالمې او مسؤولې ادارې او مديريت رامنځ ته كول.

۶- له عامه او د اشخاصو له ملكيتونو څخه ساتنه.

۷- د قانون د حاكميت ټينګښت او تعميم .

اداري فساد

دريمه ماده:

د دولتي ادارو د مؤظفينو يا ددې قانون په اوومه ماده كې د درج شوو نورو مراجعو د منسوبينو لخوا د لاندې اعمالو تر سره كول اداري فساد ګڼل كيږي:

۱- رشوت.

۲- اختلاس.

۳- د سندونو سرقت.

۵- ايجاد اداره و مديريت سالم امور عام المنفعه بر مبناى صداقت وظيفوى ومسؤوليت حسابدهى.

۶- حراست از ملكيت هاى عامه و اشخاص.

۷- تحكيم و تعميم حاكميت قانون.

فساد ادارى

مادۀ سوم:

ارتكاب اعمال ذيل توسط مؤظفين ادارات دولتى يا منسوبين ساير مراجع مندرج مادۀهفتم اين قانون فساد ادارى شمرده مى شود:

۱- رشوت.

۲- اختلاس.

۳- سرقت اسناد.

| | |
|---|---|
| ۴- د رسمي پاڼو او سندونو غير مجاز اتلاف. | ۴- اتلاف غير مجاز اوراق واسناد رسمی. |
| ۵- د قانوني واک له حدودو څخه تېرى. | ۵- تجاوز از حدود صلاحيت قانونی. |
| ٦- له وظيفوي موقف څخه ناوړه ګټه اخستنه. | ٦- سوء استفاده ازموقف وظيفوی . |
| ۷- د عدالت د تطبيق په بهير کې خنډ اچول يا لاسوهنه کې مخنيوي. | ۷- ممانعت در روند يا اخلال تطبيق عدالت. |
| ۸- په شخصي چارو کې له دولتي امکاناتو او رسمي وختونو څخه ګټه اخستنه. | ۸- استفاده از امکانات دولتی واوقات رسمی در امور شخصی. |
| ۹- له قانوني عذر پرته له دندې څخه ډډه کول او استنکاف. | ۹- امتناع واستنکاف از وظيفه بدون عذر قانونی. |
| ۱۰- د حقيقت کتمان. | ۱۰- کتمان حقيقت. |
| ۱۱- د شتمنۍ غير قانوني زياتېدل. | ۱۱- افزايش غير قانونی دارايی. |
| ۱۲- د سندونو تزوير. | ۱۲- تزوير اسناد. |
| ۱۳- د دندې انتحال (د هغو چارو د اجراء يا ډډې کولو د واک ښودل چې شخص په هغو باندې نه وي ګمارل شوى). | ۱۳- انتحال وظيفه (وانمود ساختن صلاحيت اجرا يا امتناع اموری که شخص به آن مؤظف نباشد). |

۱۴- په اړوندو چارو کې د کار د اجراء یا له هغهٔ څخه د ډډې کولو په منظور د هر ډول تحفې اخستل.

۱۵- د سپارل شوې دندې په اجراء کې تعلل.

۱٦- د اړوندې ادارې د سلوکې قواعدو نه په پام کې نیول.

۱۷- په ورسپارل شوو چارو کې د سیمه ییزو، مذهبي، جنسیتي او شخصي کتنو (ملاحظو)شاملول.

۱۸- د اداري فساد پر علیه د مبارزې په ستراتیژۍ کې د درج شوو نورو اعمالو ترسره کول او یا ورڅخه ډډه کول.

## مسؤوله اداره

**څلورمه ماده:**

د اداري فساد پر علیه د مبارزې د ستراتیژۍ پر تطبیق باندې د څارنې عالي اداره، د هېواد په کچه د ادارې د اصلاح د کړنلارې او

۱۴- اخذ هر نوع تحفه به منظور اجرا یا امتناع از کار در امور مربوط.

۱۵- تعلل در اجرای وظیفهٔ محوله .

۱٦- عدم رعایت قواعد سلوکی ادارهٔ مربوط.

۱۷-دخیل ساختن ملاحظات قومی، منطقوی،مذهبی،حزبی،جنسیتی و شخصی دراجرای امور محوله.

۱۸- اجرا ویا امتناع سایر اعمال مندرج ستراتیژی مبارزه علیه فساد اداری.

## ادارهٔ مسؤول

**مادهٔ چهارم:**

ادارهٔ عالی نظارت بر تطبیق ستراتیژی مبارزه علیه فساد اداری به حیث عالی ترین ادارهٔ هماهنگ کننده ونظارت کنندهٔ تطبیق

اداري فساد پر عليه د مبـــارزې د ستراتيژۍ د تطبيـــق هـــم غـــړې كوونكې او تطبيق كوونكې اداري په توگه ده او په خپلو اجراآتو كې مستقله او د جمهور رئـــيس پـــه وړاندې مسؤوله ده.

<u>لنډ نوم</u>

پنځمه ماده:

د اداري فساد پر عليه دمبارزې د ستراتيژۍ پرتطبيق باندې دڅـــارنې عالي اداره، په دې قانون كـــې د څارنې دعالي ادارې په نوم يادېږي.

<u>خپلواكتوب</u>

شپږمه ماده:

هېڅ شخص اومقام په ادارو كې د اداري فساد پرعليه د مبـــارزې د ستراتيژۍ د تطبيق لپاره د څارنې د عالي ادارې د اجراآتو خنـــډ نـــه كېږي.

ســـتراتيژی طرزالعمـــل اصـــلاح اداره ومبـــارزه عليـــه فســـاد اداری در سطح كشـــور بـــوده ، در اجـــراآت خـــود مســـتقل و نزد رئـــيس جمهـــور مســـؤول می باشد .

<u>نام اختصاری</u>

مادۀ پنجم:

ادارۀ عـــالی نظـــارت برتطبيـــق ستراتيژی مبارزه عليه فساد اداری دراين قانون بنام ادارۀ عالی نظارت ياد می گردد.

<u>استقلاليت</u>

مادۀ ششم:

هـــيچ شـــخص ومقـــامی مـــانع اجـــراآت ادارۀ عـــالی نظـــارت، جهت نظارت از تطبيق ســـتراتيژی مبـــارزه عليـــه فســـاد اداری در ادارات نمی شود .

**د تطبيق ساحه**

**اوومه ماده:**

ددغهٔ قانون حکمونــه د خاصــو کړنلارو له په پام کې نيولو سره پر لاندې ادارو او اشخاصو باندې د تطبيق وړ دي:

۱- دولتـــي ادارې او ټـــاکنيزي (انتخابي) عهدې.

۲- خپلواک کمېسيونونه.

۳- له دولت سره پـــه د معـــاملې طرف کې بانکونه .

۴- د اداري فساد پـــر عليـــه د ملگرو ملتو د ميثاق او نورو نړيوالو ژمنليکونو په چوکاټ کـــې غيـــر دولتي مؤسسې (N.G.Os)، بـــين المللي مؤسسې اوله دولت سره په معاملـــه کـــې طـــرف خصوصـــي تشبثونه.

**ساحهٔ تطبيق**

**مادهٔ هفتم :**

احکام اين قـــانون بـــا رعايـــت طرزالعمل های خاص بالای ادارات واشـــخاص ذيـــل قابـــل تطبيـــق می باشد:

۱- ادارات دولتی و عهده هـــای انتخابی .

۲- کميسيون های مستقل.

۳- بانک های طرف معاملـــه بـــا دولت.

۴- مؤسســـات غيـــر دولتـــی (N.G.Os) ،مؤسسات بين المللی وتشبثات خصوصی طرف معاملـــهٔ مالی بـــا دولـــت در چـــارچوب ميثاق ملل متحـــد عليـــه فســـاد اداری وســـــاير معاهـــــدات بين المللی .

## دوه يم فصل

## د څارنې د عالي ادارې

## تشکيل، دندې او واکونه

### تشکيل

**اتمه ماده:**

(۱) د څارنې عالي اداره خپلواک بودجوي واحد دی، له رئيس، مرستيال يا مرستيالانو،مرکزي او حوزوي رئيسانو او له مسلکي او اداري غړو څخه جوړه ده.

(۲) د څارنې د عالي ادارې رئيس د جمهور رئيس لخوا ټاکل کېږي. د هغې د نورو کارکوونکو استخدامېدل د قانون د حکمونو مطابق صورت مومي.

(۳) د څارنې عالي اداره خپله بودجه جوړ وي او د پړاوونو د بشپړولو لپاره ئې د ملي بودجې له لارې د وزيرانو شورئ ته وړاندې کوي. د څارنې عالي اداره خپله

## فصل دوم

## تشکيل، و ظايف و

## صلاحيت ادارۀ عالی نظارت

### تشکيل

**مادۀ هشتم:**

(۱) ادارۀ عالی نظارت واحد بود جوی مستقل بوده، متشکل از رئيس ، معاون يا معاونان ، رؤسای مرکزی وحوزوی واعضای مسلکی واداری می باشد.

(۲) رئيس ادارۀ عالی نظارت از طرف رئيس جمهور تعيين می گردد.استخدام ساير کارکنان آن طبق احکام قانون صورت می گيرد.

(۳) ادارۀ عالی نظارت بودجۀ خويش را ترتيب نموده وغرض طی مراحل از راه بودجۀ ملی به شورای وزيران ارائه می نمايد . ادارۀ عالی نظارت بودجۀ خويش را طور

بودجه په خپلواکه توګه د اړوندو قوانينو مطابق تطبيقوي.

(۴)د تشکيل جزئيات د قانون دحکمونو مطابق، له پړاوونوڅخه تېرېږي.

## دندې

نهمه ماده:

د څارنې عالي اداره د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- داداري د اصلاح او د اداري فساد پرعليه د مبارزې د ستراتيژۍ او کړنلارې پر تطبيق باندې نظارت کول .

۲- جمهور رئيس ته د دې مادې په(۱) جزءکې ددرج شوې ستراتيژۍ په هکله د نوې کتنې وړانديز.

۳- د اداري د اصلاح د کړنلاري او د اداري فساد پرعليه د مبارزې د ستراتيژۍ پرتطبيق باندې د څارنې د پلان او پروګرام طرح کول اود

مستقلانه مطابق قوانين مربوط تطبيق می نمايد .

(۴) جزئيات تشکيل طبق احکام قانون طی مراحل می گردد .

## وظايف

مادۀ نهم :

ادارۀ عالی نظارت دارای وظايف وصلاحيت های ذيل می باشد :

۱-نظارت بر تطبيق ستراتيژی وطرزالعمل اصلاح اداره و مبارزه عليه فساد اداری.

۲- پيشنهاد در مورد تجديد نظربرستراتيژی مندرج جز (۱) اين ماده به رئيس جمهور.

۳- طرح پلان وپروگرام جهت نظارت بر تطبيق ستراتيژی اصلاح اداره و مبارزه عليه فساد اداری وارائه آن غرض

منظوری لپاره ئـې د جمهـوري رياست مقام ته وړاندې کول.

۴- د ادارې د اصلاح او د اداري فساد پر ضد د مبارزې په مقصد د مناسبو او اغېزمنو لارو چارو د پيدا کولـو لپــاره د لازمــو مطالعــاتو ترسره کول.

۵- د هغو علتونو او سببونو د له منځه وړلو لپاره چې د اداري فساد د رامنځ ته کېدو موجب ګرځي، د لازمو تدبيرونو نيول.

٦- د اداري فساد د مخنيوي پـه کار کې لــه مــادي او تخنيکــي امکاناتو څخه د معقــولې ګټــې اخستنې د لارو چارو پــه هکلــه اړوندې ادارې ته سپارښتنه.

۷- د اداري فساد پــر عليــه د مبارزې دستراتيژۍ د تطبيق په هکله د ادارو له اجراآتو څخه څارنه.

۸- اړوندې اداري تــه د ادارې د اصلاح او د اداري فساد د مخنيوي

اخــذ منظــوری بــه مقــام رياست جمهوری.

۴- انجــام مطالعــات لازم جهت دريافت شيوه های مــؤثر و مناسب به مقصد نظارت بر تطبيق ستراتيژی اصلاح اداره ومبــارزه عليه فساد اداری .

۵- اتخـــاذ تـــدابير لازم و مــؤثر جهــت ازبــين بــردن علل و اسبابی که موجب ايجــاد فساد اداری می گردد.

٦- ســفارش بــه ادارۀ مربوطــه درمورد شــيوه هــای اســتفادۀ معقــول ازامکانــات مــادی و تخنيکی درامــر جــلوگيری از فساد اداری .

۷- نظـــارت از اجـــراآت ادارات درمورد تطبيق ســتراتيژی مبارزه عليه فساد اداری.

۸- ارايۀ يادداشت مبنی بر اصلاح اداره وجلوگيری از فســاد اداری

په اړه د يادداښت ورکول.

۹- د استخدام په پړاوونـــوکې د روښوالي(شفافيت) وړتيا، لياقت او عدالت د څرنګوالي ارزونه.

۱۰- د اداري فســـاد پرعليـــه د مبارزې په اړه د قوانينو، فرمـــانونو او نورو تقنيني سندونو له تطبيق او په پـــام کـــې نيولـــو څخـــه ډاډ ترلاسه کول.

۱۱- جمهور رئيس ته د تدارکاتي چارو او د دولتي مالونو يا املاکو د پلورنې يا اجارې د درولو (توقف) په اړه د وړانديز وړانـدې کـــول ، چې د څارنې په وخت کې ئې نـــه روښوالى او اغېزمنتوب تثبيت شي.

۱۲- د موجه دليلونو د موجوديت په صورت کـــې د څېـــړل شـــوو سندونو بيا ارزونه.

۱۳- ددې قانون په اوومه ماده کې له درج شوو ادارو او اشخاصـــو څخه د اړتيا وړ سندونو او معلوماتو

به ادارۀ مربوط .

۹- ارزيابى چگونگى شـــفافيت ، شايســـتگى ،لياقـــت وعـــدالت درمراحل استخدام .

۱۰- حصـــــول اطمينـــــان از تطبيـــق و رعايـــت قـــوانين ، فرامين و ســـاير اســـناد تقنينـــى در رابطه به مبارزه عليـــه فســـاد ادارى .

۱۱- ارائۀ پيشـــنهاد بـــه رئـــيس جمهور در بارۀ متوقـــف ســـاختن امورتـــداركاتى و فـــروش يـــا اجارۀ اموال يا امـــلاک دولتـــى كه عـــدم شـــفافيت و مؤثريـــت آن حين نظارت تثبيت مى گردد.

۱۲- ارزيابى مجدد اسناد بررسى شـــده درصـــورت موجوديـــت دلايل مؤجه.

۱۳- مطالبۀ اســـناد ومعلومـــات مـــورد ضـــرورت از ادارات و اشخاص منـــدرج مـــادۀ هفـــتم

غوښتنه.

۱۴- ددې قانون په اوومه ماده کې د درج شوو ادارو د اجراآتو د کړنلارو د ساده کولو د څرنګوالي ارزونه.

۱۵- د اړوندو مراجعو له لارې له اداري فساد څخه راپيدا شوو شکايتونو ته رسيدګي.

۱۶- د متحابه دولتونو له مماثلو ادارو او نړيوالو مؤسسو سره د مناسباتو او توأميتونو ټينګول او پراختيا ورکول او په دې هکله په ګډه کوښښ کول.

۱۷- په مرکز او ولايتونو کې د اداري فساد پر عليه د مبارزې په کار کې د کارکوونکو د کاري ظرفيت او اغېزمنتوب د لوړولو لپاره د کورسونو، سيمينارونو، ورکشاپونو او کنفرانسونو دايرول.

۱۸- د عامه خبرتيا لپاره

این قانون.

۱۴- ارزيابی چگونگی ساده سازی طرزالعمل های اجراآت ادارات مندرج مادهٔ هفتم این قانون.

۱۵- رسيدگی به شکايات ناشی از فساد اداری از طريق مراجع مربوط .

۱۶- برقراری وتوسعهٔ مناسبات و توآميت ها با ادارات مماثل دول متحابه و مؤسسات بين المللی وتشريک مساعی درزمينه .

۱۷- تدوير کورس ها ، سيمينار ها ، ورکشاپ ها و کنفرانس ها غرض ارتقای ظرفيت و مؤثريت کاری کارکنان در امر مبارزه عليه فساد اداری در مرکز و ولايات.

۱۸- نشر فعاليت های سالانهٔ

د څارنې د عالي ادارې د کلنيو فعاليتونو څېړول.

۱۹- دجمهوري رياست مقام ته د څارنې د عالي ادارې د اجراآتو او لاسته راوړنو د منظم رپوټ وړاندې کول.

۲۰- نورې هغه دندې چې د جمهور رئيس لخوا ورته سپارل کېږي.

## درېيم فصل

## له ادارو سره توامیت

### د پلټنې او کنترول له ادارې سره توامیت

لسمه ماده:

د څارنې عالي اداره د دې قانون په اوومه ماده کې د درج شوو ادارو او اشخاصو مشکوک مالي او حسابي فعاليتونه د پلټنې او کنترول عمومي ادارې ته سپاري.

ادارهٔ عالی نظارت جهت آگاهی عامه .

۱۹- ارایهٔ گزارش منظم در مورد اجراآت و دست آورد های ادارهٔ عالی نظارت به مقام رياست جمهوری.

۲۰- ساير وظايفی که از جانب رئيس جمهور محول می شود .

## فصل سوم

## توامیت با ادارات

### توامیت با ادارهٔ تفتيش وکنترول

مادهٔ دهم:

ادارهٔ عالی نظارت، فعاليت های مالی وحسابی مشکوک ادارات واشخاص مندرج مادهٔ هفتم اين قانون را جهت باز رسی به ادارهٔ عمومی تفتيش وکنترول محول می نمايد .

د کنترول او پلټنې عمــومي اداره مکلفه ده موضوع وڅېړي او لــه پايلو څخه ئې د څارنې عالي ادارې ته رپوټ وړاندې کړي.

## د ادارو همکاري

يوولسمه ماده:

ادارې مکلفې دي چې په دې قانون کې د درج شوو موخو په پلي کولو کې د څارنې له عالي ادارې سـره په لاندې مواردو کــې همکــاري وکړي:

۱- د څـــارنې د عـــالي ادارې مؤظفينـــو تـــه د نظـــر وړ موضوع ګانو، د څېړلو په وخــت کې د لازمو آسانتياوو برابرول.

۲- له غوښتنې سره سم د نظارت د عـــالي ادارې مؤظفينـــو تـــه د سندونو، معلوماتو او څرګنــدونو وړاندې کول.

۳- له غوښتنې سره سم د بررسۍ

ادارۀ عمومی تفتــيش و کنتــرول مکلف است موضوع را بازرســی نموده و نتيجه را به ادارۀ عــالی نظارت گزارش دهد.

## همکاری ادارات

مادۀ يازدهم:

ادارات مکلــف انــد درتحقــق اهــداف منــدرج ايــن قــانون بـــا ادارۀ عـــالی نظـــارت درمـــوارد ذيـــل همکـــاری نمايند :

۱- فراهم آوری تســهيلات لازم بـــرای مـــؤظفين ادارۀ عـــالی نظارت حين بررسی موضــوعات مورد نظر .

۲- ارائــۀ اســناد ،معلومــات و توضــيحات لازم بــه مــؤظفين ادارۀ عـــــالی نظـــــارت عندالمطالبه .

۳- توظيف کارکنان متخصــص

په وخت کې د نظارت د عالي اداري له مؤظفينو سره د همکارۍ لپاره د متخصصو مسلکي کارکوونکو توظيفول.

۴- د مخکنيو پلټنو د پايلو د پلي کولو په هکله د رپوټ وړاندې کول .

## د شتمنۍ ثبتول او خپرول

**دوولسمه ماده:**

(۱) د څارنې عالي اداره دافغانستان د اساسي قانون په يو سلو څلور پنځوسمه ماده کې د درج شوو مقامونو شتمنۍ ثبت وي، څيړي او د لزوم په صورت کې ئې خپروي.

(۲) د څارنې عالي اداره مکلفه ده چې د ملي شورئ، ولايتي او ولسواليو د شوراګانو، د وزارتونو د معينانو، د خپلواکوادارو او کمېسيونونو د رئيسانو، سفيرانو،

مسلکی عندالمطالبه جهت همکاری با مؤظفين ادارۀ عالی نظارت حين بررسی .

۴- ارائۀ گزارش درمورد تحقق نتايج بررسی های قبلی .

## ثبت ونشردارايی

**مادۀ دوازدهم:**

(۱) ادارۀ عالی نظارت دارايی مقامات مندرج مادۀيکصدوپنجاه وچهارم قانون اساسی افغانستان را ثبت ، رسيدگی وعنداللزوم نشر می نمايد.

(۲) ادارۀ عالی نظارت مکلف است دارائی اعضای شورای ملی، شوراهای ولايتی و ولسوالی ها، معينان وزارت ها، روسای ادارات وکميسيون های مستقل ،سفرا ،

واليانو او ښاروالانو او د هغـــو د مرستيالانو، قاضيانو، څارنوالانو، د ملي دفاع او کورنيو چارو وزارتونو د افسرانو، ولسوالانو، د دوه يمې رتبې مامورينو او له هغو نه پورته او دمالي، حسابي او تدارکاتي چارو د کارکوونکو شتمنی، د دندې لـــه نيولو دمخه او هرکـــا ل ثبـــت، رسيدګي او عنداللزوم خپرې کړي.

## څلورم فصـــل

## متفرقه حکمونه

**مؤقت انفصال او عدلي تعقيب**

**ديارلسمه ماده:**

(۱) که چېرې د څېړنې په پايله کې، د عامه خدمتونو مؤظف د اداري فساد په اړه مظنون واقع شي، د عدلي تعقيـــب لپاره څارنوالۍ ته ورپېژندل کېږي.

(۲) که چېرې قاضي د اداري فساد په اړه مظنون واقع شي او يا د هغو چارو له اجراء کولو څخه چې دی

والی ها و شاروال ها ومعاونـــان آنها، قضات ، څارنوالان، افسران وزارت هـــای دفـــاع ملـــی وامورداخله، ولسوالان، ،مامورين رتبه دوم و بالاتر از آن وکارکنان بخش های امور مـــالی ،حســـابی وتدارکاتی را قبل از اشغال وظيفه و همـــه ســـاله ثبت،رســـيدگی وعنداللزوم نشر نمايد.

## فصـــل چهـــارم

## احکام متفرقه

**انفصال مؤقت و تعقيب عدلی**

**مادۀسيزدهم:**

(۱) هرگاه در نتيجۀ بررسی، مؤظف خدمات عامه درارتباط به فساد اداری مظنون واقع شود، غرض تعقيب عدلی به څارنوالی معرفی می گردد.

(۲) هرگاه قاضی در ارتبـــاط بـــه فســـاد اداری مظنـــون واقـــع شـــود يـــا از اجـــرای امـــوری

ئې په ترسره كولـــو مكلـــف دی، سرغړونه وكړي، دڅارنې عـــالي اداره موضوع د تصميم نيونې لپاره سترې محكمې ته احاله كوي.

د خبر وركوونكي او شـــاهد خونديتوب

څوارلسمه ماده:

(۱) هغه اشـــخاص چـــې د اداري فساد د قضيو په كشفولو كې پـــه ښه نيت د خبر وركوونكي په توګه ياد تحقيق اومحاكمې په بهير كـــې يې د شاهد په توګه همكاري يـــا مؤجه اثباتيه سندونه او مدركونـــه وړاندې كړي وي، لـــه هـــر ډول تهديد او فشار څخه خوندي دي او له حال سره سم خبر وركوونكي ته مكافات وركول كېږي.

(۲)د خبر وركوونكي، شاهد، اهل خبره او د سندونو او مـــدركونو د وړاندې كوونكي د پيژنـــدګلوۍ

که مکلف به انجـــام آن اســـت، تخلف ورزد، ادارۀ عالی نظارت موضوع را به ستره محکمه احاله می نماید.

مصـــؤنيت اطـــلاع دهنـــده وشاهد

مادۀ چهاردهم:

(۱) اشخاصـــی کـــه در کشـــف قضايای فساد اداری باحسن نيـــت به حيث اطلاع دهنده يا در جريان تحقيق ومحا کمه به حيث شـــاهد همکاری يا اسناد ومدارک مؤجۀ اثبات را ارائه نمـــوده باشـــند، از هر نوع فشار وتهديد ورفتـــارغير مؤجه مصئون بوده ، حسب احوال برای اطـــلاع دهنـــده مکافـــات اعطاء می گردد.

(۲)افشای هويت اطلاع دهنـــده، شـــاهد، اهـــل خبـــره وارائـــه کننـــدۀ اســـناد ومـــدارک

(هويت) ښكاره كول د هغوی لــه رضايت پرته،ممنوع دي.

## له حقوقو څخه بې برخې والی

پنځلسمه ماده:

(۱)داداري فســاد د جرمونــود مرتكبينوپه هكله تعليقي مجــازات ممنوع دي.

(۲) هغه اشــخاص چــې د اداري فساد د جرمونو په تور لــه دريــو كلونو څخه زيات تر لسو كلونــو پورې په حبس محكومېږي، دمجازاتو د نېټې له پايته رسېدو څخه تر دوو كلونو مودې لپاره په دولتــي اداروكــې د كاركوونكي په توګه يــا د ټــاكنيزو عهدوكانديد نه شي منل كېدی.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره كــې درج شوي اشــخاص د جمهــور رئيس د عفــوې او د مجــازاتو د تخفيــــف د فرامينولـــه ګټــو (مزاياوو) څخه نشــي بــرخمن

بـــــدون رضـــــايت آن هـــــا ممنوع می باشد.

## محروميت از حقوق

مادۀ پانزدهم:

(۱) مجازات تعليقــی درمــورد مرتكبين جرايم فساد اداری ممنوع می باشد.

(۲) اشخاصی كه به اتهام جــرايم فساد اداری به حبس بيشتر از سه ســال الــی ده ســال محكــوم ميگردنـــــد، از تـــاريخ خـــتم مجازات برای مــدت دو ســال به حيث كاركن در ادارات دولتی ياكانديد عهــده هــای انتخــابی پذيرفته نمی شود.

(۳) اشـــخاص منـــدرج فقـــرۀ (۲) ايـــن مـــاده از مزايـــای فـــرامين عفـــو وتخفيـــف مجـــازات رئـــيس جمهـــور مســـــتفيد شــــده نمـــی

کېدی.

## د منلو شرایط

**شپاړسمه ماده:**

هغه اشخاص د څارنې د عالي اداري د رئیس، مرستیال، مرکزي او حوزوي رئیسانو او مسلکي غړو په توګه منل کېدی شي چې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو په قانون کې د درج شوو شرایطو پر لرلو برسېره د لاندې شرایطو لرونکي هم وي:

۱- د لیسانس یا له هغۀ څخه د لوړو تحصیلاتو لرل.

۲- د جنحې یا جنایت په جرم باندې نه محکومیت.

۳- د دندې د تصدی په وخت کې په سیاسي ګوندونو کې نه غړیتوب.

توانند.

## شرایط پذیرش

**مادۀ شانزدهم:**

اشخاصی به حیث رئیس، معاون،رؤسای مرکزی وحوزوی واعضای مسلکی ادارۀ عالی نظارت پذیرفته شده می توانند که علاوه بر داشتن شرایط مندرج قانون کارکنان خدمات ملکی واجد شرایط ذیل نیز باشند:

۱-داشتن تحصیلات عالی لسانس یا بالاتر از آن.

۲-عدم محکومیت به جرایم جنحه یا جنایت.

۳- عدم عضویت در احزاب سیاسی در دورۀ تصدی وظیفه.

## د تخصصي زده کړې د زمینې برابرول

**اوولسمه ماده:**

د څارنې عالي اداره، د اغېزمنې او فعالې مبارزې په منظور، د خپلو او نورو اړوندو ادارو کارکوونکو، څارنوالانو او قاضیانو ته چې د اداري فساد د قضیو په کشف او څېړلو (رسیدګۍ) کې ذیدخل دي، د تخصصي زده کړې زمینه برابروي.

## د رپوټ ورکولو کول

**اتلسمه ماده:**

د کنترول او پلټنې ادارې، پولیس، څارنوالۍ او محکمه د اداري فساد د قضایاوو په هکله له خپلو اجراآتو څخه د څارنې عالي ادارې ته رپوټ ورکوي.

## د څارنوالۍ او دیوان جوړېدل

**نولسمه ماده:**

(۱) د لویې څارنوالۍ اداره، د

## فراهم آوری زمینۀ آموزش تخصصی

**مادۀ هفدهم:**

ادارۀ عالی نظارت به منظور مبارزۀ مؤثر وفعال، زمینۀ آموزش تخصصی کارکنان خود وسایر ادارات ذیربط ،څارنوالان وقضاتی را که در کشف و رسیدگی قضایای فساد اداری ذیدخل می باشند، فراهم می نماید.

## ارایه گزارش

**مادۀهجدهم:**

ادارات کنترول وتفتیش،پولیس ، څارنوالی ومحکمه از اجراآت خود در مورد قضایای فساد اداری به ادارۀ عالی نظارت گزارش می دهند.

## ایجاد څارنوالی ودیوان

**مادۀ نزدهم:**

(۱) ادارۀ لوی څارنوالی به منظور

اداري فساد د جرمونو د تحقيق او د هغو د مرتكبينو پر عليه د دعوي د اقامه كولو په منظور په مركز او ولايتونو كې د قانون د حكمونو مطابق د اداري فساد پر عليه د مبارزې څارنوالۍ جوړ وي.

(۲) ستره محكمه د اداري فساد د جرمونو د قضيو د رسيدګۍ په منظور، په مركز او ولايتونو كې د قانون د حكمونو مطابق د اداري فساد د جرمونو ديوانونه، جوړوي.

## پنځم فصل

## وروستني حكمونه

**د واک نه اخلالول**

**شلمه ماده:**

ددغه قانون حكمونه د څارنوالۍ او محكمې قانوني واكونه نه اخلالوي.

تحقيق جرايم فساد اداری واقامهٔ دعوی عليه مرتكبين آن، څارنوالی مبارزه عليه جرايم فساد اداری را در مركز و ولايات طبق احكام قانون ايجاد می نمايد.

(۲)ستره محكمه به منظور رسيدگی قضايای جرايم فساد اداری ،ديوان های جرايم فساد اداری را طبق احكام قانون در مركز وولايات ايجاد می نمايد.

## فصل پنجم

## احكام نهائی

**عدم اخلال صلاحيت**

**مادهٔ بيستم:**

احكام اين قانون صلاحيت های قانونی څارنوالی ومحكمه را اخلال نمی نمايد.

## دلوايحـــــو او كـــــړنلارو وضع كول

**يوويشتمه ماده:**

دنظارت عالي اداره ددې قانون د حكمونو د ښه تطبيق په منظـــور د مقررو وړانديز كوي او لايحـــې او كړنلارې وضع او تصويبوي.

## انفاذ

**دوه ويشتمه ماده:**

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريدې كې خپرېږي او په نافذېدو سره ئې د ۲۰/۷/ ۱۳۸۳ نېټې په (۸۳۸) ګڼه رسمي جريده كې خپور شوى له ارتشاء او اداري فساد سره د مبارزې قانون لغو ګڼل كېږي.

## وضـــــع لــــــوايح و طرزالعمل ها

**مادهٔ بيست ويكم:**

ادارهٔ عالى نظارت به منظور تطبيق بهتر احكام اين قانون مقــرره هـــا راپيشنهاد و لوايح وطرزالعمل ها را وضع و تصويب مى نمايد .

## انفاذ

**مادهٔ بيست ودوم:**

اين قانون از تاريخ توشيح نافـــذ و درجريدهٔ رسمى نشر مى گـــردد و با انفـــاذ آن قـــانون، مبـــارزه عليه ارتشأ وفساد ادارى منتشـــرهٔ جريدهٔ رســـمى شـــماره ( ۸۳۸) مـــــــؤرخ ۲۰/۷/ ۱۳۸۳ ملغى شمرده ميشود .

**اشتراک سالانه :**

**در مرکز و ولایات : (۸۰۰) افغانی**

**مامورین دولت : ۲۵٪ تخفیف**

**متعلمین و محصلین :** (با ارائه تصدیق) **نصف قیمت**

**خارج از کشور : (۲۰۰) دالر امریکایی**

**ISLAMIC REPUBLIC**
**OF**
**AFGHANISTAN**
**MINISTRY OF JUSTICE**

# OFFICIAL GAZETTE

**Extraordinary Issue**

- **Procurement Law**
- **Law on the Super Vision and Implementation of Anti Corruption Strategies**

**Date: ٢٩th *JULY.* ٢٠٠٨**

**ISSUE NO :(٩٥٧)**